# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۱۱) ګڼه / دوشنبه ۲۵ جمادی الاولی ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۲۸ قوس ۱٤۰۱ هـ.ش / ۱۹ دسمبر ۲۰۲۲ میلادي


## د سالنګ ترافیکي حادثې په اړه د اسلامي امارت د خواخوږۍ پیغام



شریعت: په خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ، چې د سالنګ په تونل کې پرون شپه د ترافیکي پېښې له امله زموږ ۱۲ تنه هیوادوال شهیدان او ۳۷ تنه نور ژوبل شوي دي.

اسلامي امارت د قربانیانو له کورنیو سره د زړه له کومي غمرازي ښیي او په دې غمجنه پېښه کې شهیدانو ته له الله تعالی څخه فردوس جنت، زخمیانو ته کامله شفاء او کورنیو او دوستانو ته یې صبر جمیل غواړي.

همدارنګ په ټولو اړونده ادارو باندې غږ کوي، چې د داسې ناوړه پېښو د تکرار په مخنیوي کې لا ډېرې او جدي هڅې وکړي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

### د بهرنیو چارو وزیر ایراني ډیپلوماتانو او د رسنیو استازو ته

## داسې کومه مخالفه ډله نشته چې د افغانستان پر یوه کوچنۍ کلي کنټرول ولري



شریعت: پرون د بهرنیو چارو له وزیر محترم مولوي امیرخان متقي سره په کابل کې د ایران مرستیال سفیر ښاغلي حسین مرتضوي، ډیپلوماتانو او د ګڼو ایراني دولتي او خصوصي رسنیو مسؤلینو او استازو وکتل.

د ناستې په پیل کې تر ښه راغلاست وروسته محترم مقتي صاحب د افغانستان اوسنی وضعیت او له نوي حکومت سره راغلي مثبت تحولات ورته تشریح کړل او د رسنیو له استازو یې وغوښتل چې د افغانستان واقعي انځور خپل ولس او نړۍ ته وړاندې کړي.

د بهرنیو چارو وزیر وویل؛ افغانستان او ایران نه یوازې ګاونډي هیوادونه دي بلکې ګڼ دیني، مذهبي او کلتوري مشترکات سره لري، چې له دې فرصتونو نه په استفاده د دواړو هیوادونو په اقتصادي، ترانزیټي، زراعتي او ټولنیزو چارو کې تر ګټې مثبته ګټه واخیستل شي.

متقي صاحب وویل، لکه څرنګه چې افغانستان د اسیا د زړه حیثت لري نو دلته ثبات، امنیت او اقتصادي وده د ټولې سیمې په ګټه ده، هغه وروسته له لسیزو په افغانستان کې د اسلامي امارت بشپړ حاکمیت... ۷مخ

## ننګرهار کې د برېښنا پرچاوي له امله اکثره فابریکې تړل شوې دي



شریعت: د ننګرهار ولایت فابریکه‌لرونکي او د صنعت او کانونو خونه وایي، د برېښنا پرچاوۍ له امله تر نیمایي ډېرې فابریکې تړل شوې چې ورسره له ۱۰ زرو ډېر کسان هم وزګار شوي دي.

د دغو فابریکو مسوولین غوښتنه کوي چې حکومت دې د وارداتي برېښنا د ستونزې حل لپاره ژر تر ژره جدي اقدام وکړي.

د ننګرهار د صنعت او کانونو خونې د معلوماتو له مخې، په دغه ولایت کې شاوخوا ۴۰۰ لویې او وړې فابریکې شته چې څه یې په جلال‌اباد ښار او لسګونه یې په شیخ مصري صنعتي پارک کې دي. ۷مخ

## تر دې دمه ۵۵۰ زره جریبه ځمکه له غصبه ژغورل شوې

**د شریعت ورځپانۍ ځانګړی راپور**

**شریعت:** لکه چې ګرانو هېوادوالوته معلومه ده د اسلامی امارت د واکمنۍ له پیله په ټول هېواد کې د دولتي ځمکو د غصب مخنیوي او دولتي ځمکو د تثبیت په اړه ګړندۍ هڅې شروع او خورا ډېر پرمختګ شوی دی. له همدې کبله ارشو تر څو له اړوندو ادارو څخه معلومات ترلاسه کړو او خلکوته په دې اړه بشپړ معلومات وړاندې ورکړو، چې څه ډول دولتي ځمکې له غصبه ژغورل کیږي، څومره ځمکه تردې دمه له غصبه ژغورل شوې ده او څومره ځمکه غصب شوې ده نو غوره مو وګڼله چې په دې اړه یو ځانګړی راپور چمتو کړو.

د عدلي وزارت وياند عبدالحميد جهاد یار وایي، د اسلامي امارت واک ته رسیدو وروسته په کندهار کې د کابینې لومړۍ غونډه د عالیقدر امیر المومنین په مشرۍ دایره شوه، په یاده غونډه کې تصمیم ونیول شو، تر څو د ځمکو د غصب مخنیوي کمېسیون رامنځته کړي، چې بلاخره د عدلي وزارت سرپرست عبدالحکیم شرعي په مشرۍ کمېسیون رامځته شو.

چې په یاد کمېسیون کې د عدلي وزارت سرپرست عبدالحکیم شرعي د رئیس په توګه، د کور او ښار جوړولو وزارت... ۷مخ

## جوزجان کې د ۸ میلیونو افغانیو په لګښت یو کانال ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



شریعت: د جوزجان په مرکز شبرغان ښار کې د علي آباد عمومي کانال د څه باندې ۸ میلیونو افغانیو په لګښت جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د جوزجان د سینديزې فرعي حوزې رئیس ملا سعدالدین حلیمي وویل، چې دغه کانال د سویډن کمېټې له لوري په ۸ میلیونو، ۲۵۰ زره او ۹۶۱ افغانۍ جوړ شوی دی. ۷مخ


بندې مدرسې او بې سرپرسته جوماتونه! ۲مخ

د فکري، فرهنګي او رواني سنګر مجاهدینو ته دې پام وشي! ۳مخ

مهاجرت و چالش‌های برخاسته از آن در افغانستان ٤ مخ


## سرمقاله

## د موجوده نړیوالو فشارونو مقابله څرنګه کېدای شي؟

اصل حقیقت خودادی چې د اسلام او کفر مقابله به ان تر قیامته پورې همېشه روانه وي. خو داچې بیا په هره زمانه کې د مقابلې لپاره جلاجلا شرایط، تکتیکونه او مناسبتونه منځ ته راځي، نو ځکه داهم د مسلمانانو بصیرت پورې تړلې چې د وخت غوښتنې خپله درک او بیایې د ځواب لپاره هماغسې مناسب فهم ولري. د مثال په ډول موږ همدا اوس تقریباً دګردې نړۍ له سختو فشارونو سره مخ یو، طبیعی ده چې هغوی له موږ نه د اسلام پرېښودل او د کفري قوانینو منل غواړي خودا ډول شرط یې موږ په هیڅ صورت نه شو منلی، هغوی پرموږ اقتصادي بندیزونه لګوي خو موږ یې تریو حده مخنیوی کولی شو او هغوی موږ ته خپل هېواد کې همدا خپل مسلمانان را پاروي، لمسوي او د شریعت کلکې دښمنې ته یې چمتو کوي. خوکه موږ په واقعی توګه پوره بصیرت ولرو، تر ډېره یې دغه دسیسې هم شنډولی شو.

مطلب دا چې د اغیارو د فشارونو کمولو لپاره موږ سره فقط درې لارې دي: یو دا چې له ګردو اسلامي ارزښتونو ور تېر او کاملاً دهغوی ډول ته وګډېږو چې په دې کې مود دنیا او آخرت هلاکت او تبايي ده او په هیڅ صورت یې منلی نه شو. دویم فشارېې اقتصادي بندیزونه دي چې که موږ رښتیا وکړو، له بشپړ اخلاص او جدیت نه کارواخلو، خولې تویې او لاسونه تناکې، له بذر و اسرافه ځان وساتو او غوره اقتصادي تدابیر تطبیق کړو، نو موږ هم د ډېرو نورو همدغه شان هېوادونو په څېر پرمختګ کولی، پرځان بسیا کېدلی اوله پردي احتیاجه ځان ژغورلی شو. تردې چې ښایي په دې اړه به هیڅوک یوه ذره شک هم ونه لري چې که له اقتصادي پلوه هېواد پرځان بسیا او خلک مو له فقرو بې روزګارۍ خلاص شي نو بیا له واشنګټن او بروکسله هیڅکله زموږ په هکله څه احکام نه شي صادر بېدلی.

همدارنګه دریمه وسیله چې پرمټ یې تر ډېره حده له بهرنیو فشارونو سره مقابله کولی شو، ښه حکومتولي او ملت جوړونه ده. ددغه پلان په تطبیق کې زموږ مخه کاملاً خلاصه او هیڅ ډول خنډ په مخکې نه لرو، دا فقط او فقط عقل او بصیرت غواړي چې له بده مرغه زموږ هېواد کې یې سخته قحطي ده! وجه داده چې زموږ د ملت علمي کچه خورا ټیټه او محدوده، له خپل او پردي تاریخه ناخبره او د نړۍ له موجوده وضعیته یو مخ ناآشنا او ... ۲مخ

## د هېواد په ۲۵ ولایتونو کې د پولیو ضد کمپاین پیلیږي

شریعت: په افغانستان کې د ماشومانو د ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونو مرستندوی صندوق یا یونېسف وایي، نن دوشنبه د افغانستان په ۲۵ ولایتونو کې د ګوزڼ یا پولیو ضد کمپاین پیلېږي. په افغانستان کې د یونېسف ویاند کمال شاه وایي، په دغه کمپاین کې به ۷ میلیونه ماشومان واکسین شي. روان میلادي کال چې دا یې وروستۍ میاشت ده، په افغانستان کې د ګوزڼ یوه مثبته پېښه په کونړ او بله په پکتیکا کې ثبت شوې ده. افغانستان او پاکستان د نړۍ هغه دوه هېوادونه دي، چې لا هم د ګوزڼ ناروغي په کې ختمه شوي نه ده.

## پروان کې د ۲ میلیونو افغانیو په لګښت دوه پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

شریعت: د پروان د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي چې د دغه ولایت په جبل السراج ولسوالۍ کې سلګونو کورنیو برېښنا او د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی وموند.

د پروان د کلیو، بیا رغونې او پراختیا رییس ملا عبدالصحمد صادق وویل چې د دغه ولایت د جبل السراج په ده بالا او ګلبهار کلیو کې د برېښنا او د اوبو رسولو دوه پروژې د سره صلیب نړیوالې کمېټې په مالي ملاتړ د ۲ میلیونو افغانیو په لګښت بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د جبل السراج ولسوال مولوي عبدالمعروف حقجو د سیمې له خلکو وغوښتل چې د یادې پروژې په ساتنه کې هلې ځلې وکړي.

## د کابل ښار د ده افغانانو څلورلارې زینتي چارې بشپړې شوې




د دویمې ناحیې اړوند د ده افغانانو زیر زمینۍ پر سر څلورلارې، د ښکلا چارې بشپړې او د کابل ښاروالۍ د ټولنیزو او کلتوري چارو د مرستیال مولوي حبیب الرحمن منصور له لوري ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

په هغو مراسمو کې چې له همدې امله جوړ شوي وو، د کابل ښاروالۍ د ټولنیزو او کلتوري چارو مرستیال دخپلو خبرو په ترځ کې وویل: کابل ښاروالي د څلورلارو ښکلا او د ښار د آبادۍ په برخه کې ټینګه اراده لري او هڅه کوی څو د کابل ښار په اوسنۍ بڼه کې مثبت بدلون راولي. ۷مخ

## د کندهار او انسټو پوهنتونونو څخه ۱۶۹۰ محصلین فارغ شول




د کندهار پوهنتون څخه ۱۳۶۰ او د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون «انسټو» څخه بیا ۳۳۰ محصلین له بېلابېلو پوهنځیو څخه فارغ شول او د یکشنبې په ورځ ئې د فراغت مراسم د کندهار تاج محل صالون کې نیول... ۷مخ

## د ملي دفاع وزارت دوه چورلکې ترمیم او الوتنې ته چمتو شوې





شریعت: د ملي دفاع وزارت دوه نورې ویجاړې شوې چورلکې ترمیم او الوتنې ته چمتو کړې.

د ملي دفاع وزارت د دوو نورو چورلکو د بېرته رغولو او الوتنې ته د چمتو کولو خبر ورکړی دی.

یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د ملي دفاع وزارت د هوايي ځواکونو د عمومي قوماندانۍ د تخنیکرانو او منسوبینو د هڅو په پایله کې دا خل د «MI۳۵-» او «C۲۰۸-» دوه نورې چورلکې فعالې شوې.

خبرپاڼه کې همدارنګه ویل شوي، چې د ویجاړو شویو... ۷مخ

## د شیخ ابو نصر فراهي بندر کې د ټیټ کیفیته تیلو لسګونه زېرمې وتړل شوې

شریعت: د نورم او ستندرد اداري رئیس ملافضل الله تمیم د یوه پلاوي په مشرۍ د فراه د شیخ ابونصر فراهي بندر څخه د څارنې په لړ کې ۱۷ د تېلو پمپ ستېشنونه او ۳۸ زېرمې، چې د تېلو د کیفیت آزمویني یې منفي وې وتړل شوې. د دغه څارنې پرمهال ملا فضل الله تمیم د ۲۲ درول شویو ټانکرونو له څارنې او ازمایښت وروسته ۱۰ ستېشنونه، چې د تېلو ځانګړنې یې مثبتې وې بېرته خوشې او ۱۲ نور ستېشنونه یې په شته زېرمو کې تش او مهرلاک کړل.

دا په داسې حال کې ده، چې له دې وړاندې هم لسګونه ټانکرونه د تېلو د ټیټ کیفیت له امله نیول شوي وو.

# کوم خلک باید حاکمانو ته ور وپېژنو؟

امین وردک

مشـــرانو ته د کارمندانو ورپېژندل یوازې احسان، نیکي او خواخوږي نه دي ، بلکې مسؤلیت هم دی.
موږ ټول پر دې مأمور یو چې د ښـــې حکومتولۍ لپاره له حاکمانو سره په ګډه کار وکړو؛ په ټولنه کې ور خلک و لټوو او بیا یې دوی ته ور وپېژنو.
ځینې خلک پـــه حکومتولۍ کې (خپلوي او ملګري ) ډېـره یادوي او تل پر حاکمانو انتقادونه کوي، چې ګني خپلوان او ملګري یې پر دندو ګمارلي دي.
خو زه وایم چې د ښـــې حکومتولۍ لپاره همدا دواړه طبقې اساســـي انتخاب دی.
دا خو د ښه مدیریت لپاره یو اصل دی چې کارمند باید لومړی و پېژندل شي؛ که اهل ؤ، و دې ګمارل شي او که نا اهله ؤ ځواب دې ورکړل شي ، خو دا کار تر هغې ښـــه نه ترســـره کیږي، څو چې کارمند یو چا معرفي کړی نه وي او یا یې سړی په خپله و نه پېژني.
پر یومخ نویو کسانو سړی څه رقم باور وکړي؟ نوی کس نو چاته څه ښکاري چې څه ډول سړی دی؟ اخلاق یې څه رقم دي؟ مخلص دی که نه؟ آیا باور پرې کېدلای شي؟ وړتیا او اهلیت د دندې لري که نه؟ پخوا یې چېرې او څه ډول دنده اجراء کړې ده؟ دا ټولې هغه اساســـي پوښتنې دي چې باید له نوي کارمند څخه وشي؛ خو دا چې ممکن نوی کارمند ریښتیا پټ کړي او مشرانو ته دروغ ووایي، نو ښه دا ده چې وپېژندل شي او یا ور وپېژندل شي.
نو داســـې یو کس چې بیخـــي یې پېژني نـــه او نه چـــا درپېژندلی وي؛ څه معلومیـــږي چې د خدمـــت وړتیا لري که نه؟ که یو نـــوی کارمند څوک و نه پېژنـــي او وار له مخې لوړ پوســـت ورکړي ، دا کار پـــه حکومتولۍ کې لویه تېروتنه ده.
ور خپلوان او ملګري مشـــرانو ته ورپېژندل کوم جرم نه دی! بلکې جرم دا دی چې نااهله خپلوان، یا ملګري د ((اهلو په نوم)) ور وپېژنو.
موږ باید په معرفتونو کې له افراط څخه کار وانخلو، بلکې له احتیاط څخه یې واخلو او هغه داسې؛ طبعي خبره ده چې موږ کله یو څوک مشرانو ته ورپېژنو، نـــو خامخا یې په هکله له مبالغې کار اخلو؛ یانې د هغه په صفاتو کې زیادت کوو، چې همدغه افراط دی، مګر کله چې په هغه کس کې کوم وخت عادات رذیله ښکاره شي، نو ارو مرو بیا هغه مشر ته موږ کم راځو او که چېرې له دغه معرفي کس څخه کوم وخت خفه شـــو، نو بیـــا په هغو (تر حد زیاتو) صفاتو پښېمانه کیږو، چې مشرانو ته مو یې په هکله یادونه کړې وي.
مـــوږ په معرفتونو کې باید ښـــه تحقیق او پوره احتیاط وکـــړو، د کارمند وړتیا په نظر کې ونیسو او بیا یې مشـــرانو ته (تر اصلي وړتیا څه کم) ور وپېژنو، نه زیات.
معمولاً موږ په داســـې مواردو کې له احساســـاتو کار اخلو! که حاکم له موږ څخه د ورپېژندل شـــوي کس ضمانت وغواړي نـــو حتماً یې کوو، مګر هغه ظالم چې کله نوک ځای کړي، بیا ســـوک هم پســـې ځایوي؛ چې سوک یې ځای کړ، نو کله ناکله زموږ لپاره ســـردرد هم شي، چې له امله یې بیا موږ پر هغو کړیو احساناتو پښېمانه کیږو.
نو موږ باید څه وکړو؟
مخکې مې درته وویل چې (مشـــرانو ته ور کســـان ورپېژندل زموږ مسؤلیت دی) نو باید چې تر ســـره یې کړو! خو لومړی به ښـــه په دقت سره تحقیق کوو او نیت به مو فقط د الله د رضا او د نظام د تقویت او ښه والي لپاره وي، بیا نو کـــه د معرفي کارمند له خوا کومه غلطي ووینو- زړونه به مو ډېر درد نه کوي، ځکـــه چې موږ به دغه کار د ده لپاره نه! بلکې یوازې د الله له پاره کړی وي او بل دا چې؛ خپل مسؤلیت به مو ادا کړی وي.
نو مطلب دا : تاســـو وګرځئ! شاوخوا مو سترګې وغړوئ، د کار خلک ولټوئ او حاکمانو ته یې وروپېژنئ، خو فقط اهلیت، صداقت او حق ته به یې ګورئ (یعني که دغه کس ور وي، نو پوست، منصب او مقام یې حق دی) مګر دا ټول کارونه به یوازې د الله لپاره کوئ؛ ځکه چې دا کار به هم ستاســـو مسؤلیت له اوږو کوز کړي، هم به نظام ته خیر ور ورســـوئ او هم به کارمند ته خپل حق وسپارئ ؛ یعنې هم به ثواب شي او هم خرما.


# بندې مدرسې او بې سرپرسته جوماتونه!

سلیمان سعید

له بده مرغه؛ د اســـلامي امارت له حاکمیت سره په اطرافو کې اکثره مدرســـې شـــاړې او جوماتونه بې امامته شـــول، شـــیخ صاحبان، ملایان او طالبان له یـــوې مخې حکومـــت کې مدغم شـــول او خبره تر دې حده ورسېده، چې اوس په لرې پرتو او اطرافي ســـیمو کې د جنازې لپاره هم مـــلا صاحب نه پیدا کیږي. راځئ دغه ســـتونزه پـــه مفصله توګه وڅېړو او بیا یې حل لاره په ګوته کړو.
لومړی بایـــد واضحه کړو، چې اوســـنۍ زمانه کې علماء ډېر کم دي، عموماً خلک ماده پرســـت شوي او هیڅـــوک په خپلو ورونـــو او زامنو دیني درس نه وایـــي. که خپـــل کلي او کورنۍ کـــې فکر وکړو، د ګوتو په شـــمېر ملایان او طالبـــان لرو، چې هغوی کې هم اکثره یې چندان علمي ســـویه نه لري. یعنې زموږ په ټولنه کې په رښـــتینې معنـــی علماء ډېر کم دي او ورځ تر بلې کمیږي.
نو مـــوږ دومره علماء نـــه لرو، چې هـــم حکومت وکـــړي او هم مو جوماتونه او مدرســـې پرې ابادې وي. اوس چـــې دا دی علـــماؤ حکومـــت ته مخه کړه، اکثره مدرســـې مو شـــاړې او جوماتونه مو بې سرپرســـته شـــول. حکومت ته د علماؤ او طالبانو ورتـــګ دوه وجـــې لـــري. لومړی دا چـــې همدغو ملایانـــو او طالبانو د اســـلامي نظـــام د راتګ لپاره ډېـــرې زیاتې قرباني ورکړې، اوس هر یو خپل ځان مکلف ګڼـــي، چې په دغه نظام کـــې برخه واخلي، خدمت پکې وکـــړي او لکه څرنګه یې چې د اقامې لپاره مبـــارزه کوله، اوس یې د ســـاتنې لپاره مبارزه وکـــړي. دوهم دا چې علـــماء او طالبان هم د نورو خلکو په شـــان خپل کور، عیـــال او ژوند لري او د نفقـــې ګټلو تـــه اړ دي. په دې هـــم پوهیږو چې په ټولنـــه کې تر ټولو غریب قشر همدا علماء او طالبان دي، نو حتـــماً به اوس هڅه کوي چې حکومت کې دندې واخلي، تر څو خپـــل مکلفیت هم اداء کړي او پیســـې هم وګټي، هم ثواب او هـــم خرما. ځکه چـــې په امامتې او تدریس کې خـــو له پنځو زرو تر لـــس زرو معاشـــونه دي، چې هغه هم د ســـوال او ګداګرۍ په ښه ورته راټولیږي.
څرنګه چې په اته، لس زره نن سبا کور چلول بیخي ناممکـــن دي، نو ځکه څـــوک امامتي او تدریس ته زړه نه ښـــه کـــوي. البته، که د حکومـــت له خوا په امامتي او تدریـــس کې دومره معـــاش ورته وټاکل شي، چې د هغوی ورځنۍ ســـتونزې حل او د ژوند کښـــتۍ یې پرې روانه شي، ټول علماء به بیرته خپلو جوماتونو او مدرسو ته ولاړ شي.
د امامتـــي او تدریـــس یـــوه ســـتونزه دا ده، چـــې معاشـــونه یې ډېر کم او پـــه چندو راغونډیږي، چې حتـــی د لومړنیـــو خوراکي توکو قیمـــت هم نه پوره کوي. او بله ســـتونزه دا ده چـــې کله امامان د ولس چندې وخوري او د هغوی تر احســـان لاندې وي، نو طبعاً هغوی ته ســـوچه سپینه خبره نه شي کولی، خـــو که چېرې د امامانو معاش د دولت له خوا وي، نو بیا هر څه ویلی شي. البته، دلته هم یوه ســـتونزه شـــته، چې بیا به پر نظام باندې چندان انتقاد نه شي کولی. په هر صـــورت؛ اوس خـــو الحمدلله ننظام اســـلامي دی او تـــر ډېره حده چارې ســـمې روانې دي، علـــماء به هـــم دومره ضعیف نـــه وي، چې د اصلاح لپاره انتقاد ونه کړي. ان شـــاء الله. د دغې ســـتونزې یوازنۍ حل لاره دا ده، چې په ټول هېواد کې د امامتـــي او تدریس معـــاش حکومت پر غاړه واخلي. دا دومره سخته چاره نه ده، ځکه چې همدا اوس د حـــج او اوقافو او امـــر بالمعروف وزارتونو تشـــکیل د ټول هېواد له امامانو او مدرســـینو څخه زیات دی.
نـــو د داســـې یوې طرحـــې جوړلو اړتیـــا ده، چې لومـــړی خـــو امـــر بالمعـــروف او حـــج او اوقاف وزارتونه سره یو شي، ښـــه چاڼ پکې وشي، اضافي بســـتونه تنقیص شي او د ټول هېواد جوماتونه د دې وزارت مربـــوط شي، اوس چې کومـــو کارکوونکو او محتســـبینو ته معاشـــونه ورکول کیږي، هغه دې په جوماتونو کې امامانو ته ورکړل شي، ښـــه تکړه، بیـــدار او دعوتګـــر علـــماء دې ورتـــه انتخاب شي او هغـــوی ته دې رســـماً د امامت تـــر څنګ د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مســـؤلیت هم وسپارل شي. نو هـــم به مو جوماتونه بیرتـــه اباد شي او هم بـــه د امر بالمعـــروف او نهي عن المنکر ســـپېڅلې فریضه په ډېره ښه توګه اداء کیږي.
همداراز؛ د مدرســـینو په اړه دې هم غور وشي، که د حج اوقافو او امر بالمروف وزارت سره مناســـب وي، هغوی سره دې رســـمي شي او کـــه د معارف وزارت سره مناســـب وي، هغوی سره دې رســـمي شي، خو مقصد یو ځای دې رسمي شي.
البته؛ دا دلیل چـــې د ځمکې واک او حکومت باید د علـــماؤ په لاس کـــې وي، نو دې څخـــه مراد دا نه ده، چې پـــه هره وړه او لویـــه چوکۍ دې علماؤ ناست وي، بلکې واک باید له علماؤ سره وي، امیر المؤمنین باید عالِم وي، وزیران او د هغه مشاورین باید علـــماؤ وي، د پـــوځ مشري بایـــد د علماؤ په لاس کې وي او داســـې نور مهم بستونه، نور لاس لاندې اشخاص که هر څوک وي، د همدغو علماؤ متابعت بـــه کوي. بلکې نورو برخـــو کې باید خپل اهل او مســـلکي کســـان وګمارل شي، ټولو بستونو کې خو علماء کار نه شي کولی.
لکـــه چې پرون د امر بالمعروف وزیر شـــیخ محمد خالد حنفي پـــه پروان کې یوې غونـــډې ته وویل: علـــماء دې په حکومت کې لومړی او دوهم بســـت نه لټوي، کـــه ټول حکومت ته مخه کړو، مدرســـې او جوماتونـــه پرېـــږدو، نو خلکو ته بـــه دین څوک رســـوي؟! د علماؤ یـــوه فرقه باید خلکـــو ته د دین رســـولو لپاره د علم لاره ونیـــسي او له هغې لارې خپل مســـؤلیت اداء کـــړي. نو علـــماء باید یوازې حکومـــت کې راغونـــډ نه شي، حکومـــت کې هم علماؤ تـــه ضرورت دی او رعیت کې هم. نو ځینې دې حکومـــت کـــوي او ځینې دې بیرتـــه امامتي او تدریس ته ســـوق شي. دا هم بهرتـــین عبادت او د اســـلامي نظام لوی خدمت دی، چـــې جوماتونه او مدرســـې پرې ابادې وي او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ســـپېڅلې فریضه اداء کړي. خو دا هغه وخت کیږي، چې حکومت امامانو او مدرســـینو ته هم ښـــه معاشـــونه مقرر کړي او د هغوی ستونزې هم واوري.

# فلسطین چگونه اشغال شد؟

حبیبی سمنگانی



عشـــق فراوان و بیکران فلسطین در قلب هر مسلمان جا دارد. بدون شـــک، جهان اسلام از ۹۸ سال (اکنون از ۱۰۴ ســـال) به این سو برای فلسطین و فلسطینی‌ها ناله و گریه می‌کنند. بلی، در سال ۱۹۱۷ میلادی لوای خلافت عثمانی در ارض فلســـطین ســـرنگون شد و به‌جای آن پرچم ســـلطنت انگلیس برافراشته شد. در همان ســـال، وزیر خارجه‌ی بریتانیا به والتر روتشپلد، سیاســـتمدار یهودی و عضو پارلمـــان بریتانیا مکتوبی نوشت. درآن مکتوب وعده داده شد که دولت بریتانیا برای ایجاد یک کشور یهودی هر نوع همکاری با یهود می‌کند. سپس آن نامه به «بیانیه‌ی بالفور» شهرت یافت و ازآن پس تلاش برای تاسیس اسراییل در سطح بین المللی آغاز شـــد. از نگاه مؤرخـــان، این مکتوب در حقیقت عملی ســـاختن آن پیمـــان مخفی بود که پس از جنـــگ جهانی اول میان ســـلطنت انگلیس و یهود صورت گرفته بود. دولت انگلیس و یهود توافق کرده بودند که نخســـت خلافت عثمانـــی را پارچه پارچه می‌کنند و ســـپس بـــرای قیام یک دولـــت یهودی در سرزمین تاریخی فلسطین اقدام می‌کنند. انگلیس‌ها ۳۱ ســـال بر خاک فلسطین تسلط داشـــتند و درین مدت کوشش کردند هر چه بیش‌تر می‌توانند یهود را از هر نقطه‌ی جهان به‌خصـــوص یهودیان غرب را به خاک فلســـطین ســـوق دهند. زمانی‌که انگلیس‌ها در ۱۹۴۸ میلادی فلســـطین را ترک می‌کردند، زمینه‌ی اشـــغال فلســـطین را برای یهود کاملا مســـاعد ساخته بودند. ناگفته نماند در دسیســـه‌ی شکست خلافت عثمانی و جابه‌جا سازی یهودی عده‌ی از عرب‌ها نیز شکار دام انگلیس‌ها شدند. ایشـــان که به بیماری قدرت‌خواهی مبتلا بودند، گمان داشتند پس از شکست ترک‌ها زمام قدرت را به دست بگیرند. انگلیس‌ها نیز آن‌ها را چنین انگیزه داده بودنـــد که در موجودیت عرب‌ها، چگونه ترک‌ها خلافت مســـلمان‌ها را به عهـــده دارند (اگر کســـی فرصت دارد می‌تواند درین موضوع درباره‌ی نقش شریف حســـین، که به شریف مکه شهرت دارد مطالعه بکند، وی از نخســـتین کســـانی بود که شکار توطئه انگلیس‌ها شد). اما با تاسف که مسلمان‌ها هنوز هم در دام هلاکت‌بار دشـــمنان اســـلام که نژادپرستی است اســـیر اند. یهودی‌ها در سال ۱۹۴۸ میلادی ۷۸ در صد خاک فلسطین را اشغال کردند و اسرائیل را به عنوان یک کشور مســـتقل اعلان نمودند. در حقیقت، انگلیس‌ها خاک فلســـطین را بـــرای یهودیان به تحفه داده، اسرائیل را بنیاد گذاشتند. سپس در سنه‌ی ۱۹۶۷ میلادی پس از شکســـت عرب‌هـــا در جنگ با یهود، همه خاک فلسطین در پنجه‌های خون‌آشام یهود قرار گرفت و تا ۲۰ سال کامل هیچ مسلمانی جرات نکرد با یهود پنجه نرم کند. در ۱۹۸۷ میلادی، برای اولین بار مسلمان‌های فلسطین بر ضد دولت نامشروع اسرائیل با ســـنگ و کلوخ قیـــام نمودند و تا امـــروز هزاران فلسطینی به شهادت رسیده اند، جراحت برداشته اند، از دیـــار خود و در دیار خود آواره شـــدند و یا هم به دیار همسایگان پناه بردند و زندان‌ها را پر ساختند، اما هنوز مبارزه ادامه دارد، خســـتگی و ماندگی در پیکر پاره پاره‌ی فلســـطینی‌ها دیده نمی‌شـــود، می‌خواهند خاک پاک را از قدم‌های ناپاک نجات داده یکبار دیگر با لذت آزادی آشنا شوند.

# دموجوده نړیوالو فشارونو مقابله...

بې پروایو. دغه راز په موږ کې د استبداد او لویې ماده هم ډېره پرمختللې او پیاوړې ده چـــې د بهرني اشـــغال اویرغل په دفع کې ګټوره خو د ملـــت جوړونې، نظام او حکومتولۍ په برخه کې زموږ د ناکامۍ ترټولو مهم سبب دی.
تاسې راځئ لږ د اسلامی تاریخ د سرپاڼې را واړوئ او وګورئ چې لرغونو مسلمانانو ترموږ لا په کراتو مراتو ســـخته بې کسۍ او نا وسي کې د ځواکمنو نړیوالو له سختو فشارونو سره په څه ډول مقابله کړې؟ یوازې او یوازې دایمانداری، اخلاص، تقوا، اخـــوت او خواخوږۍ پرمټ، چې ښـــه او مثالي حکومتولي هـــم په حقیقت کې دهمدغو توکو له شـــتونه منځ ته راځي. دملت جوړونې او غوره حکومتولۍ پرمټ ځکه له نړیوالو فشارونو سره مقابله کېدی شي چې د تطبیق له کبله یې په ولس کې اختـــلاف له منځه ځي، ټول ملت د حکومت ترڅنګ دریږي، خیانت اوغداري ته زړه نه ښه کوي او پردیو لمسونوته هیڅوک هم غوږ نه نیسي خو ملت جوړېدنه هم تر ډېره د ښـــې حکومتولۍ په واسطه منځ ته راځي. ځکه پر عدالت او خدمت ولاړ حکومت خپل رعیت راغونډولی او تنظیمولی شـــي خو فاسد هغه یې د خورا ناوړه پاشل کېدو لامل ګرځي.
لنډه دا چې موږ له موجوده نړیوالو فشـــارونو سره د مقابلې لپاره همدغه درې لارې یاوســـیلې لرو: له اسلامه تېرېدل، اقتصاد پیاوړی کول او ملت جوړونه، چې د ښې حکومتولۍ پای کې منځ ته راتلی شـــي. زموږ پر هېواد تپلی پخوانی ژریم ځکه له نړیوالو فشارونو خوندي و چې له اسلام، خپلواکۍ او لوړو معنوي ارزښتونو ورتېرو او ځینې نور شـــتمن هېوادونه د خپل اقتصاد په وجـــه بې غمه دي. بنا پردې موږ ته رومبۍ لاره قطعاً ناممکنه، دویمه شـــونې خوله ستومانۍ سره او دریمه لار بالکل راته خلاصه، صافه او اســـانه ده خو نه یې پېژنو اونه یې منو. په همدې اساس ویلی شـــو چې له پردیو را دې خوا موږ ته له خپله ځانه هم ډېرې ستونزې را جوړې دي.
راځئ د حل لپاره یې ترهغه مخکې لاس په کار شو چې فرصت موله لاسه تللی او دپښېمانۍ لاسونه مروړو. راځئ که خپله نه پوهېږو له ځینو هوښیارو او تجربه کارو مشرانو سره مشوره وکړو، خبرې یې واورو او دحل کولو چل ترې زده کړو.

# مولوي صاحب...!

**ابودجانه «مصباح»**

تېره ورځ مو دستار بندي وه، چې د تعلیمي دور د پای او د معلمي دور د پیل نسبت ورته کیږي.
نن په ښار کې مارسډیز موټر ته پورته شوم، هماغه د دستار بندي د ورځې په سپین لباس کې وم، لږه شیبه وروسته مې غږ واورېد چې: مولوي صاحب کرایه راکړه!
فکر مې شو چې کلینر ماته سترګې نیولې دي، ژر مې کرایه ورکړه خو په یاد غږ سره مې دماغو جټکه وخوړله احساسات مې طوفاني شول او هیجان واخیستم چې دا خو ماته وایي.
زما رنګ او سلیقه د ملایانو ده، کالي او څادر مې سپین دي او پټکی مې په سر دی.
په موټر کې ناست وم سوچ یوړم او د کلینر غږ مې غوږونو کې انګازې کولې چې مولوي صاحب........
په ذهن کې مې رنګارنګ پوښتني راولاړېدلې چې اوس خو درته د ملا نسبت کیږي، اوس دې مسولیتونه لوړ شول، اوس به د ټولنې مقتدا جوړیږې، اوس به خلکو ته نېکه لاره ښایې، اوس به معنی دار ژوند کوې، اوس دې جامې سپیني دي، اوس له ډېرو شیانو څخه بندي شوې، اوس به خلک ستا په کړنو دلیل نیسي، اوس د خلکو د ویښتابه دنده غاړې ته در ولوېده، اوس ته د ټولنې له معززو وګړو څخه شمار شوې، اوس دې له نوم سره د (مولوي) او (ملا) مختاړی او د (صاحب) وروستاړی ولګېد، اوس به کړی تعلیم تر نورو رسوې او اوس به د نوي نسل د سالمې روزنې سخت مسؤلیت ته اوږه ورکوې!!!!!!
دا هر څهٔ به څنګه کیږي؟ په تا کې دومره توان شته؟ ته به د خپل منصب قدر وکړی شې؟ ته به خپله سپینه جامه سپینه وساتې؟
په همدې پوښتنو کې مې فکر بل لوري ته لاړ، د کوچنیوالي زمانې ته لاړم هغه ورځې رایادې شوې چې نوې مې په سبق شروع کړې وه، جومات ته به سبق ته تلم او په مونځ ودرېدم، په کور کې به ټولو په عذابولم چې څوک نوي په لمونځ ودریږي یوه جمعه به ډوډۍ نه خوري او ما به ژړل. بیا را ستر شوم او د مکتب سره سره مې حفظ هم شروع کړ، د حفظ دوران بیا د پاچاهي ژوند وو، له سرور او خوشحالیو ډک ژوند وو، هغه ورځ به مو ډېره په خوشحالۍ تېرېدله چې نوی سبق، سبقي او منزل به مو ښه یاد وو.
د وظیفې راټولولو صحنې او خاطرې رامخکې شوې او هغې ورځې ته یې ورسولم چې په زیاته واوره کې مو وظیفه راټولوله او د سپیو له ډاره به مو د وظیفې له بوجۍ او د ترکاري له بالټې سره ډانګ هم ګرځاوو.
د حفظ د تکمیل، دستار بندي او دور په وختونو تېر شوم او د صرف بهایي او میزان الصرف په بابونو ودرېدم د ضرب ضربا ضربوا ګردان مې وکړ، د شمه کتاب بیتونه مې تکرار کړل، د فقهي بابونه، د نحوي ترکیبونه، د منطقو قضیې، د کافیې سختي او بیا د جامي صاحب تحقیقونه........
بل لوري ته مې د بې وسۍ او غریبۍ هغه ورځې رایادې شوې چې د تعلیمي دوران له سترو امتحانونو او ننګونو څخه شمېرل کېږي.
هغه ملګري رایاد شول چې د حفظ او کتابونو په دوران کې ملګري وو او اوس تر خاورو لاندې دي.
هغه کړس کړس خندا پسې مې آرمان وکړ چې د سبقونو په دوران کې مو له هغو ملګرو سره کولې چې وروسته د دین په ننګ ټوک ـ ټوک شول.
بیرته هغه وخت ته وګرځېدم چې له دولس کلنۍ څخه به د پلار او ورونو په شمول زه هم د چاپو له ډاره له کور څخه فراري وم، د دوهمې درجې کتابونو پر وخت مې لړ لړ ګیره راختلې وه او تېل مې زیات ورکول چې ژر غټه شي د کال د سبقونو له ختمېدو یوه میاشت مخکې کور او بیا مرکز ته ولاړم او خپل پلار/استاد/آمر ته مې ویل چې زما هم ګیره راغله او نور جهاد کوم، هغه راته په جواب کې وویل چې که جهاد ونه کړې بې غیرته به یې خو سبق به خامخا ورسره وایې.
په هغه شیبه هم تم او بیا موسک شوم چې ملګري کمین ته تلل او زه یې له تګ نه منع کړم زه په ژړا شوم او په بله ورځ بیا زه تللم او دوه نورو ملګرو ژړل چې اوس دواړه شهیدان دي.
د فکر آس مې د سبقونو او انقلاب په خاطرو ځغلنده مزل کاوو چې بېرته خپل سوالونه را یاد شول.
څه به کوم؟ دا درونډ پېټی به څنګه وړم؟ څنګه به د خلکو فکري روزنه ښه وکړای شم؟ څنګه او څنګه ..............
منزل ته تر رسېدو مې زړه، ذهن او فکر ټول په دې موافق شول چې د دې درونډ مسؤلیت لپاره باید د اسلافو ژوند ته رجوع وکړې او په دقت یې مطالعه کړې، د هغوی د علمي سفر تجربې او اغیزمنې لارې په نظر کې ونیسې او د هغوی د قدم په نقش روان شې.
ځکه چې د خلکو په نظر او عامه اصطلاح کې ته مخکې مصروف او اوس فارغ شوې خو په حقیقت کې ته مخکې فارغ او اوس مصروف شوې.

# د فکري، فرهنګي او رواني سنګر مجاهدینو ته دې پام وشي!

**خالق یار احمدزی**

نن غوارم په متفاوته برخه کې یو څه ولیکم او هغه سترې چې د شل کلن جهادي بهیر پر مهال د نظامي ډګر د ستومانه مجاهدینو تر څنګ د فکري او رسنیز ډګر هڅانده مبارزینو وګاللې، تر منځ یې د تړاوونو او د دواړو مبارزو په ارزښتونو لنډه تبصره وکړم.
تاسو ته څرګنده ده چې، د تیرې ادارې پر مهال د ناټو ځواکونو، بهرنیو سفارتونو او د ملګرو ملتونو د دفتر (یوناما) سربیره، د ارګ تر چتر لاندې له مختلفو سوژو څخه رسنۍ سپانسر کیدې، د اشغال او اشغالګرو حامیانو په غوښتنو امکاناتو نازول کیدل او د جګړییزو مصارفو معادل لګښتونه یې په تبلیغاتي سنګرونو لګول.
هغوی له پیله پتیلې وه، چې د واک او ځواک تداوم یې یواځې له تبلیغاتي لوډسپیکر څخه خوندي کیدای شي او په همدې موخه یې لکه څنګه چې په نظامي برخه کې مختلفې جبهې او ځواکونه جوړ وه، د تبلیغاتي آدرس لپاره یې هم ډول ډول د سوق الجیشي مورچې عیارې کړې وې؛ د پروپاګند خپرولو ادرس، د فیک او ناسمو خبرونو د تنشیر سټډیوګانې، د بهرنیو ناوړه سریالونو د دوبله کولو کسان، د ټولنیزو رسنیو په برخه کې کرایي لیکوالان، د هنر او موسیقي د ترویج لپاره د ستاره افغان په څیر ځانګړې فحش برنامې، په هیواد کې د جګړییز وضعیت د نورمال ښودلو او د مخالفینو «مجاهدینو» د ناکامۍ لپاره په سلګونو چاپي، انځوریزې او غږیزې رسنۍ او په زرګونو خبریالان.... هغه څه وه، چې د دوی ترسیم شوې خیالي باچایي یې لکه پوکانۍ پړسولې وه او ددې لپاره یې په میلیونونو ډالر ورځني مصارف درلودل.
داچې د اسلامي امارت لخوا یې پر وړاندې په نشت امکاناتو مخلصانه مبارزه د بریا تر پوړیو ورسیده، لامل یې د رهبري سپیڅلتیا، د قلمي مبارزینو ژمنتیا او اطاعت او له سنګري مجاهدینو سره بشپړه همغږي وه؛ چې هم یې د کابل ادارې په زرګونو تبلیغاتي چینلونه تر سیوري لاندې راوستلي وه، هم یې د بهرنیانو په ننګه دکرایي ملایانو فتواوې چلنج کړې وې او هم یې د جهادي بهیر په بریا کې څرګند مؤثریت درلوده.
که اوس تر ډېره د فکري سنګر ملګري سره پاشل شوي، ځینې یې د پخوا په څیر د اطاعت له پولو د وتلو هڅه کوي او ځیني یې هم له دې امله د مایوسۍ اوښکې تویوي، چې ګواکې پر ځای یې پرونیو مخالفینو ته اقتدار ورکړل شوی، هغه عوامل دي، چې باید ګټې او زیانونو باندې یې لړ ښا واچوو.....!
تر فتحې وروسته مو داسې فعال فرهنګي مبارزین هم وه، چې له دې امله له پیغوریزو نیوکو سره مخ شول، چې ګواکې د جګړې په سنګرونو کې نه وه لیدل شوي، هغوی چې د ښارونو په منځ کې یې د دښمن پر وړاندې د تبلیغاتي جګړې سنګر ګرم ساتلی وه او د دښمن لخوا د نیول کیدو پر مهال به یې تر وسلوال مجاهد تعذیبول څو چنده زیات وه؛ ددې پر ځای چې د ستاینې په ګلونو ونازول شي، لا خنډې ته پریښوودل شول.
که له مبالغې ور آخوا ووایو، دوی که د وسلوال مجاهد څخه زیات خدمت نه وي کړی، کم یې هم نه دی کړی؛ په فکري برخه کې یې د دښمن ملاتړي راخپل کړل، د دښمن د فکري جګړې دامونه یې وشلول، د دښمن په منځ کې یې نفوذ وکړ او حتا دښمن یې په خپله لومه کې ښکار او تس نس کړ.
د اسلامي امارت لیډرشیف څخه احترامانه تقاضا کوو، چې د یو څو غوښتنو په منلو کې راسره هغه ژمنتیا ثابته کړي، چې پخوا یې راسره درلوده....!
۱ـد فکري او فرهنګي ډګر مخکښان دې د یوې لویې غونډې په ترځ کې تقدیر او وستایل شي، څو دا وانمود کړي، چې امارت څومره د فرهنګ او ادب برخې ته ژمن دی.
۲ـد ټولو وزارتونو ویاندویان، د اطلاعاتو فرهنګ رئیسان او د ملي او حکومتي رسنیو مشران دې د فرهنګي کمېسیون له پخواني نوملړ څخه وټاکل شي او د یاد کمېسیون مربوط ملګري که تر فرهنګي امورو ور آخوا په نورو اداراتو کې په کار بوخت وي، باید خپلې اډانې ته راوستل شي؛ ځکه هغوی د امارتي پالیسي سره په ټوله معنا بلد او په دې برخه کې د باور وړ خلک دي.
۳ـ له رسنیزې برخې نیولې، بیا د ترانو او فلمونو تر جوړولو؛ هغه مختلفې برخې چې د فکري او فرهنګي مبارزې لپاره اړینې دي، باید مشري یې د تیر فرهنګي کمېسیون په اډانه کې لوبیدلې څیرې واخلي، څو په دې توګه په پخواني متانت او کلکه ژمنتیا دا برخه غښتلې وساتي.
۴ـد مخابراتو وزارت په همغږۍ دې، ټولنیزو رسنیو برخې ته ځانګړې پاملرنه وشي او ټول هغه سهولتونه چې تیرې ادارې خپلو منسوبینو ته تیار کړې وه، د مجاهدو فعالانو لپاره دې هم غم وخوړل شي.
۵ـد پخواني فرهنګي کمېسیون ټول منسوبین باید وخت پر وخت علمي سیمنارونو او د لوړو زده کړو لپاره په کوردننه او بهر کې نوموتو پوهنتونونو ته ور وپیژندل شي.
۶ـد امارت ټول اړوند سایټونه، مجلې او نور رسنیز وسایل باید فعال وساتل شي او که شوني وي، باید د الاماره په نامه نړیوال سایټ، تلویزیون او راډیو جوړولو باندې اقدام وشي.
دا او دې ته ورته غوښتنې هغه واقعیتونه دي، چې که ورته پام وشي، د فکري او فرهنګي برخې د میدانونو سوبه هم په خپل نوم کوو او هغه فکري مخالفې پرګنې به چې ناوړه تبلیغات یې په مغزو کې پیچکاري شوي، هم راخپل کاندو.

# د اسلامي حرکتونو فکري جوړښت ژورې ستونزې لري!

**موسی فرهاد**

قطری عالم او د ستراتیژیکو مطالعاتو او بحثونو متخصص دکتور جاسم سلطان وایي: د مرسي پر ضد له کودتا مخکې له ما څخه وپوښتل شول چې آیا په مصر کې به اسلامپال په حکومت کې کامیاب شي؟ زما ځواب دا و چې: نه.
ځکه ما ته د اسلامي حرکتونو د افکارو عمق معلوم و، چې د یو باثباته دولت د رامنځته کولو وړتیا یې نه درلوده. د اسلامي حرکتونو په فکري جوړښت کې ژورې ستونزې شته او ژورو اصلاحاتو ته اړتیا لري. هغه سطحي ذهنیت چې په اسلامي حرکتونو حاکم دی، که پر اساس یې د دوی واک دوام پیدا کوي دا به یو خارق العاده کار وي. که د مرسي حکومت بریالی شوی وای، دا به واقعا یوه معجزه وه.
ښایي څوک ووایي چې د مرسي حکومت ځکه نسکور شو چې پر ضد یې نړیوالې دسیسې روانې وې. زه وایم اصلي ستونزه همدا ده چې ته د لویو ننګونو سره مخامخ یې او دومره فهم او درک نه لرې چې دا خطرونه وپیژنې، نو طبیعي ده چې دسیسې به دربانډې غلبه مومي. له پیښو څخه باید عبرت واخیستل شي. داسې نه چې په لاره کې دې د غره په شان موانع پراته وي، ته یې اول وینې نه، که ویې ګورې هم، وایې چې ورنږدې شم په معجزانه ډول به ستونزه حل شي، کله چې وروسیږې او معجزه پیښه نه شي او غر دې په دا سر راپرېوځي، بیا وایې چې دا ابتلاء او امتحان و، باید صبر ولرو او بیاځلي هڅه وکړو، او دا چاره پرلپسې تکراریږي. ستونزه همدا ده چې د زده کړې او عبرت اخیستلو هیڅ فکر نشته. که ته په نړۍ کې د مختې تګ په طریقه نه پوهیږې دا ستا خپل مشکل دی، د نړۍ مشکل نه دی. د نړۍ کار همدا دی چې خنډونه به درته جوړوي، او ستا کار دا دی چې د دې چلنجونو په منځ کې به په مهارت سره د مختې تګ لاره باسې. اما که ته د نړۍ دسیسې نادیده نیسې او بیا وایې چې دا د نړۍ له لاسه، دا منطقي نه ده. دا د نړۍ نه بلکې ستا له خپله لاسه. مطلب دا نه دی چې مونږ له اسلامي ارزښتونو تېر شو. مګر دا پوښتنه باید وشي چې ایا د اسلامي ارزښتونو په اړه زمونږ تصور د اسلام له تقاضا سره سم دی؟ که ستونزه زمونږ په ناسم پوهاوي کې وي، باید په دې پوهاوي بیا کتنه وشي.

# حجاب!

**ژباړه: حبیبزی**

یوې جلۍ موبایل اخیستی وه
کله چې یې پلار ولید; نو پوښتنه یې ترې وکړه
چې موبایل دې کله واخیست لمړی دې کوم کار ترسره کړو.
لور : شیشه مې یې په پلاستیک و پوښله او یو پوښ مې هم ورته واخیست.
پلار: چا مجبوره کړې وې چې دا کار وکړې؟
لور: نه پلارجانه!
پلار: ستا په نظر په دې کار سره دې د جوړوونکي شرکت سپکاوی ونکړو؟
لور: نه پلارجانه خپله شرکت هم ددې سپارښتنه کړې، چې موبایل ته پوښ ورکړو!
پلار : داسې خو به نه وي چې موبایل دې زوړ او بې ارزښته دی; نو ځکه دې پوښ ورکړی دی؟
لور : نه پلارجانه ځکه مې پوښ ورکړو، چې موبایل مې خپل ارزښت دلاسه ورنکړي او خراب نه شي.
پلار : له پوښ سره خو موبایل بدرنګه او درونډ نه شو؟
لور : نه پلار جانه! هیڅ هم نه او که بیا هم بدرنګه او درونډ شي په دې ارزي; ځکه چې د موبایل ساتنه کوي.
پلار په ډیره مینه خپلې لور ته وکتل او ویې ویل
حجاب یعنې همدا!

# مادي او معنوي تمدنونه
# په انساني تاریخ کې تیر شوي او دوام لري!

**فرید احمد (مبارز)**

۱:- مادي تمدن: د بشر په تاریخ کې د مادي تمدن څېرکی په لومړي ځل مسلمانانو د اندلُس (اوسنۍ هسپانیا) په سپین ښار کې خلاص کړ، چې د قرطبې، زهراء، اشبیلیه مانۍ د مسلمانانو د هماغه وخت د تمدون او هوښیارۍ نښې بلل کیږي. هغه وخت چې اروپا په توره دوره کې وه، او امریکا بیخي شتون نه درلود، مسلمانانو د بغداد، قاهرې، شام، القروین، الزیتون او الازهر پوهنتونو چې د پیړیو پیړیو پرمختللي پوهنتونونه یادیدل هم جوړ کړي وه. د تاریخ په پاڼو کې بغداد، شام او اندلس ځکه د تمدن ستوري یاد سوي، چې هلته زیاته موده د علم لمر ځلیدلی، د یوه قوي اسلامي دولت تر چتر لاندې په زرګونو مسلمانانو زده کړې کولې، په لویو لویو کتابتونونو کې په میلیونونو کتابونو شتون درلود، مګر څه وخت چې مسلمانانو خپل دولت د لاسه ورکړ، د یاد تمدن څپې غرب ته مخه کړه، چې نن د یوه نړیوال نظام (دولت) په اساس حیرانوونکې تکنالوژي انساني ټولنې ته وړاندې کوي.
۲:- معنوي تمدون دی: دا بیا هغه تمدون دی، چې غرب یې بیخي پیژني هم نه، مګر په مسلمانانو کې د همدې تمدون د پرمختګ او پوخوالي لپاره رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او الهي ډالۍ (قرآن کریم) دواړه رالیږل سوي دي. معنوي تمدون پر روحي، اخلاقي، دیني او اسلامي آرزښتونو ولاړ تمدون دی، چې په دې برخه کې به تر قیامته پوري مسلمانان ساری پیدا نه کړي. غرب په معنوي او اخلاقي تمدون کې د حیوانیت درجې ته رسیدلی، تر دې پور چې نارینه د نارینه سره، او ښځینه د ښځینه سره نکاح کوي، چې دا کړنه نه یوازې انساني نه ده، بلکې پر انساني فطرت سربیره آن په ځینو حیواناتو کې لا هم د فطرت خلاف عمل دی.
نو ای مسلمانانو!!! همدا اسلام دی چې موږ مادي او معنوي دواړو تمدونونو ته را دعوتوي، تر څو د دنیا او اخرت د ذلالت څخه مو وساتي.
حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) څومره ښه فرمایلي دي:
الله سبحان وتعالی موږ ته په اسلام سره عزت راکړی دی، که مو چیري د اسلام څخه په بل څه کې عزت ولټوی، الله سبحانه وتعالی به مو ذلیله کړي.

# مهاجرت و چالش‌های برخاسته از آن در افغانستان



**اسفندیار**

بیست و هفتم قوس برابر به ۱۸ دسمبر روز جهانی مهاجران است. مهاجرت عبارت‌است از جابه‌جایی مردم از مکانی به مکانی دیگر برای کار یا زندگی. مردم معمولاً به دلیل دور شدن از شرایط یا عوامل نامساعد مانند فقر، کمبود غذا، آفات طبیعی، جنگ، بیکاری و کمبود امنیت مهاجرت می‌کنند. دلیل دوم می‌تواند شرایط و عوامل مساعد جذب کننده مانند امکانات صحی بیشتر، آموزش بهتر، درآمد بیشتر و مسکن بهتر در مقصد مهاجرت باشد. عنوان روز جهانی مهاجرت توسط سازمان یونسکو نامگذاری و در تقویم جهانی ثبت شده است. این روز از سال ۱۹۹۰ تا کنون در کشورهای مختلف با شعارهای چون مهاجرت با حفظ کرامت انسانی، گرامی داشته می شود. از آنجایی که مهاجرت را می‌توان به دو بخش، مهاجران داخلی و خارجی تقسیم کرد مهاجرت داخلی هم بخش قابل ملاحظه‌ای را در مهاجرت تشکیل می‌دهد. به خصوص در افغانستان که مردم از اثر بیکاری و فقر از روستاها به شهرهای بزرگ مهاجرت می‌کنند. ساکنان اطراف شهرها هر ازگاهی برای کسب درآمد به مراکز شهرها مهاجرت داخلی انجام می دهند. اما آنچه بیشتر مورد توجه این گزارش می‌باشد مهاجرت خارجی است.

با این حال، یادهانی روز مهاجرت فرصتی است تا یکبار دیگر به پدیده مهاجرت از منظر راه حل نگاه شود. این کشور با داشتن بیشتر از شش میلیون مهاجر در جهان از پدیده مهاجرت رنج می‌برد، از چهل سال به این طرف پیوسته افراد متخصص و نیروی‌کار از اثر جنگ، نا امنی، فقر و بیکاری افغانستان را ترک می‌کنند. هر چند ابعاد مثبت مهاجرت را هم نمی‌شود انکار کرد و بر اساس گزارش سازمان جهانی مهاجرت، شغل مهاجران و درآمد آنها بخش مهمی از اقتصاد جهانی را شامل می‌شود و سبب رشد و بهبود آن نیز می‌شود و همینطور نقش مهاجران را در گردش اقتصاد خانواده‌ها در افغانستان نیز نمی‌شود نا دیده گرفت، اما بیشترین سود را از پدیده مهاجرت کشورهای میزبان می‌برند و پیامد آن برای کشورهای چون افغانستان که بیشتر از هر زمان دیگر به نیروی کار و افراد تحصیل دیده و متخصص نیازمند می‌باشد گران است.

فضل سه سال پیش راهی دیار مهاجرت شد او که دوسال بی‌کاری را پس از گذراندن دوره تحصیل تجربه کرد یگانه دلیل مهاجرتش را بی‌کاری عنوان کرده گفت:« پس از اینکه با هزار مشکل درس خواندم و شب بیداری کشیدم، اما هنگامی که فارغ شدم بیکار ماندم. ده‌ها نهاد دولتی و غیر دولتی را گشتم، فرم پر کردم و امتحان دادم، اما نشد کار پیدا کنم و از طرف دیگر نامزد هم شده بودم و خیلی بدهکار بودیم مجبور شدم ایران بیایم و کار شاقه کنم تا هم زندگی خانواده را در افغانستان بچرخانم و هم کمی پول برای عروسی و بدهکارانم فراهم کنم. زندگی و کار اینجا برایم از لحاظ روانی خیلی سخت است چون ما توان و انرژی جوانی‌مان را برای دیگران مصرف میکنیم و فرصت کار در بازسازی و سهم گرفتن در آبادی کشور خود را نداریم و این برایم رنج آور است. هر چند خیلی تلاش به خرج دادم تا یک کار حتی نا چیز در وطن عزیز خود و کنار خانواده مهیا کنم ولی متأسفانه نتیجه نداد و اخرین گزینه همین مهاجرت بود که در عالم از اندوه و نا امیدی تصمیم بر آن گرفتم. من برای سرزمین ما آرزوهای قشنگ داشتم و دارم و میخواستم به سهم خودم هرچند اندک هم می‌بود در وطن و مردمم خدمت می‌کردم ولی حالا که می‌بینم کاری نتوانستم و یا مجالی برایم داده نشد ناراحتم.»

سردار یکی دیگر از جوانانی است که اکنون دور از وطن و در دیار مهاجرت زندگی می‌کند. او اکنون در یکی از کشورهای اروپایی با امکانت بهتر زندگی می‌کند، اما دوری از وطن، مردم و خانواده را سخت ترین شکنجه برای خودش می‌داند. وی گفت:« وقتی در کشورم بودم از بسکه تعریف‌های زیاد از کشورهای بیرونی شنیده بودم، آرزوی رسیدن به این کشورها را داشتم. اما زمانی که به عنوان یک مهاجر از افغانستان بیرون شدم هر لحظه دلم به لحظات گذشته و آیام شرینی که در منطقه و کشور خود داشتم تنگ می‌شود، ما در این جا از امکانات خیلی زیاد در زندگی بر خورداریم ولی هرگاه وطن و خاطرات شرین آن یادم می‌آید اشکم سرازیر می‌شود و گاهی شب‌های دراز تا صبح گریستم و برای سنگ و چوب وطنم دل تنگ شدم. گاهی از خودم سوال میکنم چرا ما باید سزاوار چنین زندگی باشیم و این چه امتحان سخت زندگی است که افغانها دارد سپری می‌کند؛ دور از خانه و کاشانه بی یار و دوست. من دیده ام که خیلی جوانان به محض رسیدن در اینجا دچار افسردگی شدید شده اند و نتوانسته اند با محیط سازگاری کنند. چون کشور و مردم دیگر مثل کشور و مردم خود ادم نمی‌شوند. هر قدر هم متمدن باشند بازهم به مهاجرین به دید دیگر نگاه می‌کنند.»

وی افزود:« اگر در وطن ما کار باشد و نگرانی اقتصادی ما بر طرف گردد یک لحظه هم در اینجا نمی‌مانم و خیلی مشتاقم که بیایم با جان و دل در وطن دست در دست هم نهیم و جدا از هرگونه ملاحظات کشور خود را آباد کنیم. به نظرم تنها راه حل هم همین گزینه است. باید همه در کنار هم بسازیم.»

هر چند سالانه تعداد زیادی مهاجرین از کشورهای منطقه و جهان دوباره به افغانستان بر می‌گردند، اما شمار قابل ملاحظه از شهروندان در هر ماه بنابر دلایلی مختلف از جمله مشکلات اقتصادی این کشور را ترک می‌کنند که می‌تواند چالش بزرگی را در راستای توسعه و آبادی در پی داشته باشد و کشور را به کمبود نیروی کار و افراد متخصص مواجه کند.

بر اساس آمار سال گذشته وزارت مهاجرین و کمیشنر عالی ملل متحد در امور پناهنده‌گان، شش میلیون شهروند افغانستان در کشورهای بیرونی زنده‌گی می‌کنند. در کنار آنکه این رقم درشت از مهاجرین اغلب جوان، چقدر می‌توانست نقش موثر در بازسازی افغانستان داشته باشد یک پیامد منفی اقتصادی را هم به دنبال دارد. این مهاجرین با هزینه‌های هنگفت از مسیرهای غیر قانونی و با ده‌ها مشکل که حتی زندگی شان را نیز تهدید می‌کند به کشورهای دیگر می‌روند و رفته اند.

هر چند دوسال قبل در کنفرانس سازمان ملل متحد در مراکش «سند بین المللی مهاجرت» به امضای ۱٦٤ کشور از ۱۹۳ کشور عضو سازمان ملل متحد رسید که «مهاجرت امن، منظم و مرتب» نام گرفت تا اهدافی مانند «سازماندهی عملیات دریایی نجات»، «تقویت اقدام فرا ملی علیه قاچاق مهاجران» و «دسترسی مهاجران به خدمات اساسی» را تا سال ۲۰۳۰ دنبال کند. اما مهاجرین افغانستان پیوسته از حقوق انسانی شان در برخی از کشورها محروم بوده اند و خیلی هم شده که در مرزهای کشورهای دور و نزدیک کشته و زخمی شوند. با این همه آنچه واضیح است اینکه پدیده مهاجرت هر ساله در حال گسترش است و این واقعیت جهانی را نمی‌شود انکار کرد اما آنچه مهم است کنترول مهاجرت بی رویه است. بر اساس آمارها، تقریباً ۲۸۱ میلیون نفر در سال ۲۰۲۰ مهاجر بین المللی بودند که ۳,٦ درصد از جمعیت جهان را تشکیل می داد که این رقم در سال ۲۰۰۰ به طور تقریبی ۲,۸ درصد بوده است.

# ژمی؛ د عبادت او ایثار موسم!

**حسان مجاهد**

رسول الله ﷺ فرمایلي: په ژمي کې روژه نیول سوړ غنیمت دی.[احمد او ترمذي]

سوړ په دې معنا چې تنده، ګرمي او تکلیف نه لري.

سلف صالحین به دژمي موسم ته ډیر خوشحاله وو او په دې موسم کې به یې په عبادت زیات حرص کاوه.

عمر رض وایي: ژمی دعبادت ګذارو خلکو لپاره غوره غنیمت دی.

عبد الله ابن مسعود رض وایي: ژمي ته ښه راغلاست وایو؛ په دې موسم کې برکتونه نازلیږي، شپه په کې دعبادت لپاره ښه اوږده وي او ورځ په کې دروژې لپاره ښه لنډه وي.

معاذ ابن جبل رض دزنکندن پر مهال ژړي او وایي.... دژمي په اوږدو شپو پسې ژاړم.

عبید بن عمیر رح وایي: ای دقرآن خاوندانو! په ژمي کې شپه دقرات لپاره اوږده شوه نو قرآنکریم تلاوت کړئ او ورځ دروژې لپاره لنډه ده نو روژې ونیسئ!

په ژمي کې باید دعباداتو له جملې څخه دغه شیانو ته پاملرنه وشي:

۱- د شپې لمونځ ۲- دورځې روژه ۳- د سهار لمونځ په جماعت سره ۳- په یخو اوبو اودس کول ۴- په یخه هوا او توره شپه کې مسجد ته تلل ۵- دالله تعالی نعمتونه ور یادول لکه د لباس/پوښاک نعمت، دګرمو خونو نعمت، دباران او واورې نعمت. ۶ - دالله تعالی په قدرتونو کې فکر کول لکه سړه هوا، بریښنا، تندر او... ځکه ددغه کارونو ډیر فضیلت بیان شوی ده.

د بې وزله کسانو سره همکاري کول

الله تعالی په قرآنکریم کې «إیثار» دمومنانو صفت یاد کړی ده، ایثار دې ته وایي چې تر ځان بل څوک غوره وګڼې او مرسته ورسره وکړې. ایثار دصحابه کرامو ځانګړی صفت و، مهاجرین صحابه مدینې منورې ته په داسې حال کې را ورسیدو چې هیڅ دنیوي متاع ورسره نه و، خو انصارو په خپلو کورونو کې ځای ورکړ او تر وسه تیره همکاري یې ورسره وکړه. په ژوند څه، چې د مرګ په حال کې یې هم خپل ملګري له یاده نه ویستل: حارث، عکرمه او عیاش (رضی الله عنهم) په یوه پیښه کې درې واړه زخمیان پراته دي او دسختي تندې له امله یې اوبه طلب کړې، ساقي چې اوبه راوړې، نو لومړی یې حارث ته ونیولې، خو هغه چې د عکرمه تنده ولیده نو عکرمه ته یې داوبو ورکولو امر وکړ، عکرمه چې دعیاش تنده ولیده نو یې عیاش ته د اوبو ور کولو امر وکړ، عیاش په دې حال کې شهید شوی ده، ساقي چې بیرته راګرځي عکرمه او حارث هم دواړه شهیدان شوي دي.(انا لله وانا.....)

دژمي په موسم کې ډیر بې وزله کسان له ستونزو سره مخ وي، نو ددوي باید ډیره حال پوښتنه او همکاري وشي، خوراکي مواد، دتودوخي اسباب او نور دژوند ضروریات یې تکمیل شي؛ ځکه اسلام مؤمن ته داسې سپارښتنه کوي « شوروا ته اوبه ور زیاتي کړئ، تر څو دخپل همسایه هم در سره ګذاره وشي»[الحدیث] نو یوازې ځانونه مه پټوئ تر څنګ مو د یخ نیولو خوارانو خیال هم وساتئ!

# پر اغزو مزل!

**وقایت الله وقار**

دا نو سخته ده چې ټول وایي: انسان اړتیاوې لري او بیا په رښو سترګو ګورې چې همدغه ویناوال ستا په حقوقو درخېژي، ستا له ښه سړیتوب ناوړه ګټه اخلي او ته نو یوازې ددې په خاطر ورسره چشم پوشي کوې چې هلته لوی مصلحتونه دي او هغه باید زیانمن نه شي.

هر انسان خپلې اړتیاوې لري او هغوی چې ویاړمن مبارزین یې ګڼو، هم انسانان وو / دي، دا چې ولې په زړګونو کې د ګوتو په شمار ځلا کوي؟ دا نو ددغه اړتیاوو په اړه د حوصلې او صبر درس دی، یوه تجربه ده او یو پیغام دی چې په اسانۍ ورته ډېر نه تسلیمېږي، مشري او کشري همدغه یوه ټکي کې سره جلا کېږي چې مشر په خپلو غوښتنو د کشر غوښتنو ته لومړیتوب ورکوي، د ځان کیسه کې نه وي؛ خو د کشر د حقوقو غم ورسره وي او د هغه اړتیاوو ته رسېده ګي کوي.

مونږ خو په علمي لحاظ ډېر کوچنیان یو او بیا مو ټولنه دومره وروسته پاتې ده چې که له دې نړدې ګاونډیو سره یې پرتله کوو؛ نو له زړه به ورته وینې وڅاځي؛ خو چې زړه زړه وي او لږ احساس ولري، ددغه مزل کمی مو په دې کې هم دی چې مونږ تل د خپلو مصلحینو او مرشدینو مخه نیولې ده، نور قامونه د ژوندیو قدر کوي او د مړو لپاره یوازې دعاوې کوي، مګر مونږ د ژوندیو په خلاف دعاوې کوو او د مړیو لپاره بیا داسې قدرونه کوو چې که هغه په خپل ژوند لیدلی وی؛ نو له غم او پرېشانۍ به د مرګ تر کومې په اسانۍ رسېدلی نه وی او ځان به یې جنتي حساب کړی وی.

کورنۍ چې یوه وړه ټولنه ده او د عامې ټولنې لپاره اساس دی، هلته هم د مشرۍ سختي او د کشرۍ اساني ښه کتلای شو، پلار او مور دا شرم نه ګڼي چې خپله دې زوړ لباس واغوندي، سړه دې وخوري، مګر دا ډېر زور ورکوي چې اولاد یې وړی وي، خیرن وي، د همزولو ترمنځ ټیټ راشي او... دلته چې پلار او مور څومره قرباني ورکوي، هغوی ته یې ښه معلومات کېږي چې پلارولۍ او مورولۍ ته رسېدلي وي. کله چې یوه وړه کورنۍ دومره قرباني غواړي؛ نو ټولنه او بیا د ټولنې د نخبه خلکو مشري او له هغوی سره پاتې کېدنه او د هغوی اداره خو تر دې څو چنده زیاتې سرښندنې ته اړتیا لري.

که یو زده کوونکی تر دکتورا کچې پورې زده کړه کوي او زمونږ د هېواد دا نړدې شل کاله علمي مزل په خورا سختو پړاوونو سر ته رسوي، ډېر کله په دې منځ منځ کې له داسې سختو حالاتو سره مخ شي چې ګومان کوي نور نو له علم سره د مخه ښې شپېې راغلې دي او بیا هم «نر» شي او ماته ونه مني؛ دا به ورسره ومنو چې د شاګردۍ دغه مزل سخت دی، له کړاوونو ډک دی او بلاتکلیفونه هغه ګاللي دي، ولې کله چې د تدریس، خدمت او ادارې ډګر ته رادانګي؛ نو په یوه میاشت کې به ورته ددې معلومات وشي چې د زده کړې پړاو خو ډېر اسانه وو، سخت پړاو خو دادی، هلته په شاګردۍ کې خو په ټول کال کې دوه ازموینې وې، کله کله به درېیمه ورسره یو ځای شوه؛ مګر دلته دا هره شېبه د ازمېښت ډګر دی او په هره شېبه کې ددې ارزونه ده چې خلک ددې پر ځای چې لږ خو دا خپل ځان هم وتلي، ما تلي او د خپلې تلې او خپلو کاڼو په رڼا کې را باندې حساب کوي.

که زمونږ زده کوونکي لږ ددې شته وضعیت د ادارې بااحساسه وګړو سره کېني او د هغوی د خدمت په وړاندې شته ګواښونه درک کړي؛ نو پوه به شي چې د دوی د ژمي د اوږدو شپو مطالعې او د اوړې د لنډو شپو بې خوبۍ یې په وړاندې ډېرې کمې دي.

دا یو واقعیت دی چې زمونږ په ټولنه کې د خدمت مخ ته ورل د شګو مزل نه هم سخت دی، دلته په هر ګام کې غرونه غرونه حوصله په کار ده او دا حوصله یوازې د هغه چا په اړه هم ده چې نه پوهېږي او هغوی هم ترې مستثنی نه دي چې پراخه علمونه لري.

زه خو شخصا ددې موافق نه یم چې خلک وایي: ناپوهۍ دا ستونزې جوړې کړې دي. حقیقت دادی چې ناپوهي د ټولو شرونو مور ده، ولې دلته ډېرې ستونزې هغه چا جوړې کړې دي چې ځان پوه او هوښیار ګڼي، دغه ډول خلک نه د خپله د چا د خبر وي او نه بل څوک خبر ته پرېږدي، ددې ډول خلکو بلا مثالونه تاسو په خپل چاپیریال کې کتلای شئ.

مونږ د تاریخ په غېږه کې یو تت قام په همدې یو چې خپله خو د تورې نه یو، که بل توره کوي؛ نو په زړه مو ورته اور بل وي، زمونږ د ټولو دا تصور جوړ شوی چې تر هغې پورې زه عزتمند کېدای نه شم، څو چې مې د بل سپکه کړې نه وي! عجیبه ده چې یو کس دې امنیتي، اقتصادي، ټولنیزې، کورنۍ او... ستونزې هم ولري او بیا دې زمونږ په څېر په کم ظرفه ټولنه کې واوسېږي، هغه دې په ځان آرام حرام کړي او د خپل قوم مادي او معنوي خدمت ته مخه کړي...دغه خدمت دومره اسانه نه دی او له همدې کبله خو ترې ډېر زر ډېر وګړي په شا کېږي، تر اصلي هدف پورې محدود کسان پاتې کېږي، مونږ باید په همدغه محدودو وګړو کې راشو، هلته چې امام حسن البناء رحمه الله مونږ ځیر کړي یو او همدا یې راته ویلي چې ورونو، دېته اماده شئ چې تاسو وږي شئ، څو نور ماړه شي، تاسو بې خوبه شئ چې نور آرام وکړي او تاسو مړه شئ چې امت ژوندی شي، مونږ د خپل امت ژوند ته لبیک وایو چې ددې لوی امت په منځ کې زمونږ غیور ملت هم ځای لري، مونږ چې په دغه ملت کې اوسو؛ نو د نورو په اوږو به بار نه یو، خپله مبارزه به وړو او په مادي او معنوي آبادۍ به دا وطن او دا قام ان شاء الله آبادوو، که نور هر څه وایي او که نور مو په هر ډول د مبارزې مخه نیسي، مونږ به توپانونو ته نه درېږو او که له یوې مخې سل په سله باوري یو چې زمونږ په خپله ټولنه کې د پرمختګ مبارزه څه اسانه نه ده، ولې له بل لوري به دا خپل مسؤلیت ګڼو، د زهرو هر ګوټ چې په دې لاره کې ورسره مخ کېږو، د شاتو په څېر ګوټ کوو او پر دغه اغزنه لار به داسې مزل کوو، لکه په هر ګام چې راته متور او څنیور ځوانان له ګلانو سره ولاړ وي او شاباسی راته وایي.

وبالله التوفیق

## خیال ته هوا د مدینې راځي

**استاد فضل ولي ناګار**

خیـــال تـــه هـــوا د مـدینې راځي
انځـــور د زړه پـــه ائیـــنې راځـــي
د مزمل غـــږ د الـــرقـــم لـــه کـــوره
پـــه ځـــلا تیـــرې زمـــانې راځـــي
بې ادبي ســـیلاب د اوښکـــو وکـــړه
ویـنـــې زم زم چـیـنـې چینې راځي
د مصـــر هـــره کـــوڅه نیـــسه ورتـــه
د زلیـــخا غـــونـــدې بـانې راځـــي
بهیر د خدای د ښکلو مات کړ هجوم
